# په پوهنتونونو کې د علمي، فرهنګي او ادبي غونډو اغېزمنتیا

**پوهنمل رحمت الله حکیمي**

پښتو ژبې او ادب څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځي، پکتیکا پوهنتون، پکتیکا، افغانستان
rahmatullah.hakime@gmail.com: ایمیل

**لنډيز**
د علومو پرمختګ او ښکلا د افکارو په تبادلو او مباحثو کې نغښتې، په پوهنتونونو کې دا ډول غونډې استاد او محصل ته د نوښت، ځانباورۍ او پراخې مطالعې لرلو وس ورکوي، له چیټرې زده کړو څخه یې باهدفه او په پایلو ولاړو زده کړو ته رابولي، یو بل ته د وړ او پر کار پوه کسانو د علمي تجربو، افکارو او مشاهدو لېږد ترسره کېږي. د کره کتنې له اړخه په پنځونو او څېړنو تاوده بحثونه رامنځته کېږي، د استاد او محصل د استعداد پوښلې جزیرې پرانیستل کېږي او په دوی کې د جرأت، فصاحت او منطق قوه پیاوړې کېږي، همدا راز د زده کړې پروسه ګټوره کېږي او بالاخره د یوې ژبې پر علمي، فرهنګي او ادبي بډاینې سربېره، پیاوړی او بسیا تحصیلي نظام رامنځته کېږي. په پوهنتونونو کې د دې ډول غونډو په مؤثریت منظمه څېړنه نه وه شوې، چې دلته د کمپوزیټ میتود په څېړنیز ډول د دې ډول غونډو مؤثریت ښه روښانه شوی.

**کلیدي اصطلاحات:** علمي او ادبي بحث؛ د علمي او ادبي بحثونو مؤثریت؛ د عالم ارزښ؛ اکاډمیک مسئولیت

# The Effectiveness of Academic, Cultural, and Literary Meetings at Universities

**Sr. Teaching Assistant. Rahmatullah Hakimi**

Paktika Higher Education Institute, Education Faculty, Pashto and Language Department
Email: rahmatullah.hakime@gmail.com

**Abstract**
The development and enrichment of scientific knowledge thrive on exchanging ideas and discussions. Such academic interactions within university settings catalyze creativity, self-confidence, and comprehensive learning experiences for educators and students. These forums facilitate the transfer of scientific expertise, ideas, and observations among talented and knowledgeable individuals. Through keen observation and rigorous debates on research findings, the latent talents of educators and students are unveiled, enhancing their capacities for courage, eloquence, and logical reasoning. This, in turn, enriches the learning process and contributes to the establishment of a robust educational system encompassing scientific, cultural, and literary dimensions. Surprisingly, there has been a lack of systematic research assessing the effectiveness of such academic gatherings within universities. Therefore, this research employs a comprehensive methodological approach to elucidate the efficacy of these academic meetings.

**Keywords:** Scientific and Literary Discussion; the Efficiency of Scientific and Literary Discussion;L Scholarly Value; and Academic Responsibility

**سريزه**

هغه ناستې چې د پوهـ، روڼ اندو او تخصصي کسانو له خوا د يوې ځانګړې موضوع په تحليل، کره کونه او سپړنه جوړېږي او د بېلا بېلو کسانو نظرونه او افکار پکې تبادله کېږي علمي، ادبي او فرهنګي ناستې ګڼل کېږي. د علمي او اکاډميکو مرکزونو په رغښت، نوښت او پايښت کې دا ډول ناستې ځکه اساسي رول لري، چې هم پکې علم زده کېږي او هم پکې د علم د وړاندې کولو هنر.

د علومو د نننۍ پرمختګ تر شا همداسې علمي بحثونه، مناظرې، کره کتنې او تحليلونه پراته دي. دا څېړنيزه مقاله په اکاډميکو مرکزونو کې د همدې ډول ناستو په مؤثريت ليکل شوې ده، چې د علمي، ادبي او فرهنګي ناستو په مؤثريت، د علم او عالم په ارزښت خبري لري، پر دې سربېره د پوښتنپاڼې په اساس د کادري غړيو د نظرونو تحليل، پايله او ددې څېړنېزې مقالې دويمه برخه جوړوي چې د نومووړيو ناستو د مؤثريت په اړه ګټور معلومات لري.

**د مسالې بيان**

په ټولنه؛ په تېره اکاډميکو مرکزونو کې د علمي افکارو او نظرياتو د اورېدو او تبادلې فرهنګ ته تر ممکنه حده، په سيستماتيک ډول د يوه ځانګړي ميکانېزم په اساس کار نه دی شوی. که څه هم په پوهنتونونو کې علمي، ادبي او فرهنګي ناستې کېږي ؛ خو د مؤثريت د څرنګوالي په اړه يې پاموړ څېړنه نه ده شوې، همدا علت دی چې موږ د علومو په بېلا بېلو برخو کې د نوښت او پرمختګ زيري نه لرو. همدې ته په پام مې غوره وګڼله، چې په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو په موثريت څېړنېزه مقاله وليکم.

**د څېړنې پوښتنې**

- په اکاډميک چاپېريال کې علمي، ادبي او فرهنګي ناستې څومره اغېزناکې دي ؟
- علمي او ادبي ناستې د استاد او محصل د فکري نبوغ، علمي پياوړتيا، منطق، جرأت او فصاحت لپاره څومره اغېزناکې دي ؟
- علمي، ادبي او فرهنګي غونډې بايد پر کوم ميکانيزم جوړې شي ؟

**د څېړنې فرضيه**

اکاډميک موثريت او اعتبار ترلاسه کولو لپاره په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي ناستو جوړول خورا مؤثر دي.

**د څېړنې مخينه او نظري بنسټونه**

په افغانستان کې د ګڼو علمي، ادبي او فرهنګي بحثونو مرکزونه شته، چې له امله ډېری ګډونوال په تخصصي ډول روزل شوي دي، ښه بېلګه يې افغان ادبي بهير او دې ته ورته نور مرکزونه ښودلای شو؛

خو د دې ډول غونډو په ارزښت او موثریت له شفاهي خبرو ورهاخوا تر دې دمه کومه څېړنېزه مقاله یا یو اثر زما تر سترګو شوی نه دی، که وي هغه به یوازې د وینا کولو په هنر، فصاحت او بلاغت لنډې لنډې لیکنې وي. دا مقاله په ځانګړي ډول په اکاډمیکو مرکزونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي بحثونو مؤثریت ته ځانګړې شوې، چې تر دې وړاندې پرې ځانګړې څېړنه نه ده شوې.

**څېړندود**

دا څېړنه د مختلط میتود په واسطه په تحلیلي او تشریحي بڼه شوې، چې له بېلا بېلو کتابونو، پوهنتپاڼې، خپلو نظرونو او تحلیلونو سره مله ده. په کومو برخو کې چې کتابونو ته اړتیا پېښه شوې هلته له کتابونو او په کوم ځای کې چې د نظریاتو راټولونې او د هغې تحلیل ته اړتیا پېښه شوې هلته له پوهنتپاڼې څخه کار اخیستل شوی، چې د هېواد ګڼو کادري غړو ځواب کړې او له تحلیل څخه یې توحیدي نظر او طرحې را اخیستل شوې دي. په ټوله کې د نورو نظرونه، کتابتوني مواد د څېړنې د تحقق لپاره د خپل تحلیل او پرتلې سره مله څېړل شوي دي.

**اصلي متن**

په نړۍ کې د پوهنتون او اکاډمیکو مرکزونو د جوړېدو فکر او طرح د علمي بحثونو او ناستو برکت دی. د یونان سترو فلاسفه وو به په باغونو او دېرو کې علمي مباحثې، مناظرې او کره کتنې کولې. د اکاډمۍ بنسټګرهم دوی دي، چې تر ننه یې له علمي او ادبي نظرونو څخه استفاده کېږي. پکار ده، چې د علمي بحثونو لپاره پراخه حوصله ولرو، ښه اورېدونکی او ویونکی اووسو. له بده مرغه زموږ په ټولنه کې دې برخې ته په سیستماتیک ډول کار نه دی شوی، یو بل ته د غوږ نیونې، متقابل علمي احترام او د یوه کس نظر ته د درانه کتلو سبک نه لرو. همدا علت دی، چې تاریخي ادوارو ته په پام هر وخت د فکر او نظر څښتن راڅخه خفه شوي دي، برعکس نورې نړۍ یې له فکري نبوغ او علمي وړتیا څخه ګټه اخیستې ده. ښه بېلګه یې علامه سیدجمال الدین افغان (رح) دی، چې زموږ ټولنې یې د فکر او نظر د تحمل او هضم توان نه درلود، دوه ځله د پردیو په توطیو تبعید شو. په نورو هېوادونو کې یې په علمي، سیاسي او تاریخي لحاظ ګټور تحول رامنځته کړ، چې تر ننه یې شرقي نړۍ منندویه ده. محمد صدیق روهي د افغاني سیدجمال الدین د اتیایم تلین د افتتاح په غونډه کې ویلي وو: ((دغه لوی تاریخي شخصیت سیدجمال الدین افغانی د دین جمال او د ختیځ د نهضت جلال و. عربي هېوادونه یې د (عربي انقلاب معنوي پلار) بولي)) (کابل مجله، ۱۳۵۶ل: ۴ــ ۷). علامه افغاني مفتي محمد عبده، ادیب اسحاق، عبدالله نعیم، یعقوب سنا، عبدالسلام مویلحي او نور روڼ اندي پوهان او اسلامپال ځوانان روزلي. شاهد حسین رازقي یې د شاګرد محمد عبده په اړه لیکي: ((سید جمال الدین افغاني

دده په افکارو، عقیدې او نظریو کې یو اوښتون راوستی، د هغه د زړه او لید نړۍ یې روښانه کړه. دی د سیدجمال الدین افغان تر لیدلو وړاندې داسې وو لکه سترګې یې چې ړندې، غوږونه یې کاڼه او ژبه یې ګونګې وي)) (رازقي، ۱۳۸۸: ۷۱).

## د علمي او ادبي ناستو د جوړېدلو ګټورتوب

علمي، ادبي او فرهنګي ناستو د ټولنو په جوړښت او علمي ارتقا کې مهم نقش لوبولی دی. د علامه افغاني له خبرو اترو او علمي لیکنو څخه ټول شرق رڼا شو. رازقي یې په اړه لیکي: ((کله چې علامه افغاني حیدر اباد ته لاړ، نو د افغاني په کور کې به ډېر علمي بحثونه کېدل، چې ښه بېلګه یې د ښوونیز او تحصیلي نظام د پایښت او رغښت لپاره په حیدراباد کې د مسلمانانو لپاره په مورنۍ ژبه د جامعه عثمانیه (عثمانیه پوهنتون) د جوړېدلو طرح وه، چې څلویښت کاله وروسته دوی د افغاني سپارښتنه او وړاندوینه پر ځای کړه. افغاني دا ستره ولسي اړتیا څه نا څه نیمه پېړۍ مخکې په ګوته کړې وه.)) (درسوال،۱۳۸۹: ۹۸).

د علمي بحثونو بله ګټه د علمي منطق پیاوړي کېدل او جرأت پیدا کول دي، چې د علومو په انتقال او رسالت کې ستره ونډه لري. همدا د منطق کمال دی، چې په وسیله یې انسان د حق او باطل، سم او ناسم بېلولو ځواک پیداکوي، لوړ او علمي فکر د انسان په شخصیت او جوړونه کې ستر نقش لري. د ټولنې فکري لوړتیا په علم او پوهه پورې اړه لري مترلینګ وایي: ((ستاسې فکر چې هر څه وي تاسې هماغه یاست، هیڅ امکان نه لري، چې څوک له خپل فکره لوی شي یا د خپل فکر له حدودو څخه تجاوز وکړي)) (الفت،۱۳۸۷: ۵۰۲).

په پوهنتونو کې علمي، ادبي او فرهنګي غونډې جوړول محصل او استاد پراخې مطالعې کولو ته رابولي. د زده کړو له پېټ سترګي مسیر څخه یې ژغوري. د ځراغ اثر لیکوال لیکي: ((که موږ ددې لپاره په معلوماتو پسې ګرځو، چې د خپلې خوښې نظریاتو ته نوي دلیلونه پیدا کړو، دا د معرفت لار نه ده، واقعي معرفت هغه څوک حاصلولای شي چې د خپلې خوښې نظریاتو یې سترګې نه وي پټې کړي)) (غضنفر، ۱۳۹۸: ۳۰۵).

د علمي بحثونو او مناظرو ستره ګټه داده، چې د عالمانو له تجربو، افکارو او مشاهدو څخه خبرېږو، غوره علم همدا دی چې نورو ته یې ګټه ورسېږي، نورو ته د پوهې او تجربو انتقال د بحثونو او افکارو په تبادلو کې نغښتی، علم د خزانې غوندې له ځان سره باید پټ ونه ساتل شي. د کلتور او ټولنې اثر لیکوال لیکي: ((د علم سره زموږ چلن او تعامل د خزانې په څېر دی، څه چې مو زده وي هغه پټ ساتو

چې هسې نه تاوان وکړو او خزانه تمامه شي، علم اوس خزانه نه ده بلکې د هوا او رڼا غوندې ټول بشريت ورڅخه د استفادې حق لري)) (غضنفر،۱۳۹۳: ۲۱۹-۲۲۰).

مهمه دا چې علمي او ادبي مناظرې او ناستې ويناوال په خپل استعداد متکي کوي، بالاخر خبرې يې د فصاحت او بلاغت تومنه پيداکوي. ځومره چې يوه وينا فصيحه او بليغه وي دومره جذابه او د لوستونکي د خوښې وړ ګرځي. استاد ناګار د (معاني) اثر د فصاحت برخه کې ليکي: ((فصاحت د بيان او خبرو د اظهار، اغېزمنې او زړه راښکون يوه وسيله ده. د فصاحت نيمګړتيا په يوه مهذبه ټولنه کې عيب شمېرل کېږي)) (ناګار، ۱۳۹۷: ۴۴).

پورته څرګندونو ته په پام علمي او ادبي غونډې په نني عصر کې د علم په وړاندې زموږ د ټولنې د خزانې تصور له مينځه وړي. د فکر او نظر تبادلي جريان رامنځته کېږي. پر دې سربېره محصل ته د پراخه مطالعې، علمي استدلال، جرأت او خپل نظر وړاندې کولو توان ورکوي. حکيمي د زړه خبرې اثر کې د استاد او محصل تر سرليک لاندې ليکي: ((د محصل د دروني دنيا، تفکر، تخيل او علمي نبوغ د جزيرو سرپټې پرېښول لوی ظلم دی. يوازې په چېپټري لکڼه محصل تر منزله نشو رسولای. د محصل ستره تېروتنه داده، چې نومرې مهمې ګڼي، حال دا چې نومرې يوازې چوکاټ جوړوي، نه استعداد)) (حکيمي، ۱۴۰۰: ۳۵).

په پوهنتونونو کې د علمي او فرهنګي غونډو جوړېدل مو د علومو د پرمختللو زيګنالونو سره اشنا کوي. همدا د نظرياتو، تجربو او افکارو د تبادلو ډګر دی. په عملي ناستو کې بايد په داسې نويو، ګټورو او اغېزناکو څېړنو او ليکنو خبرې وشي، چې د افغانستان علمي او اکاډميکه برخه ورسره قوي پرمختګ وکړي. پوهانو، ليکوالو او فرهنګيانو ته پکار ده، چې د اسلامي او ټولنيزو ارزښتونو تر سيوري لاندې په خپله برخه کې لوی لوی کارونه وکړي. د اتل غازي ميرويس خان نيکه د مور خبره چې زوی ته يې کړې وه د يادونې وړ ده: ((ته خدای <sup>(ج)</sup> ددې لپاره پيدا کړی يې، چې لوی کارونه ترسره کړې او د خدای مخلوق ستا په خدمت هوسا او ارام شي، نو د مور له مړينې وروسته به يې تل دا وصيت تکراراوه او ويل به يې: زما مور ماته د لويو کارونو د تر سره کولو وصيت کړی، زه بايد همغسې کارونه وکړم)) (رفيع، ۱۳۹۱: ۱۹۶-۱۹۷).

همدې ته په پام پر موږ هم لازمه ده، چې په اکاډميکو برخه کې د خپلو اسلافو پر پله پل کېږدو.

علمي، ادبي او فرهنګي ناستې بايد نه يوازې د علمي او فرهنګي غنا او پرمختګ باعث بلکې له بايد د اخلاقو، علمي سلوک او روشونو د زده کړې تربيوي مرکزونه هم شي. حضرت عمرالفاروق (رض)

فرمايلي دي: ((تَعلَمُو العِلمَ وَ تَعلَمُو لِلعِلمُ السَکِينَة وَ الحِلمَ)) ژباړه: علم زده کړئ او د علم (د ښکلا او ګټورتيا) لپاره ارامي او حلم (نرمي او زغم) زده کړئ. (درسوال،۱۴۰۰: ۲۵۳)

بل ځای په يوه موقوف حديث کې راځي: ((تادبو ثم تعلمو)) لومړی ادب زده کړئ، بيا علم تر لاسه کړئ. له دې څخه هدف دادی چې انسان بايد د علم، علم زده کړې تر څنګ بايد په اخلاقي لحاظ هم لوړ وي، تر څو په پايلو ولاړې زده کړې رامنځته شي.

له دې ورهاخوا د ادبي او علمي ناستې بله ښېګڼه دا ده، چې انسان ته د وينا کولو، فصاحت او بلاغت ځواک ورکوي. که د پوهې لرلو سربېره يو کس په دې برخه کې هم پياوړی وي، ډېره نتيجه پرې مرتبه کېږي. د فصيحې او بليغې وينا کولو ارزښت خورا زيات دی، په اورېدونکي ښه اغيز ښندي. د افهام او تفهيم پروسه پياوړی کېږي. په اسلامي ارشاداتو کې يې هم ارزښت په ډاګه دی. حضرت عايشې صديقه (رضی الله تعالی عنها) فرمايي: ((کَانَ کَلامُ رَسُول الله (صلی الله عليه وسلم) کَلاماً فَصلاً يَفهُمهُ کُلُّ مَن سَمِعَهُ)). ژباړه: د حضرت رسول الله (صلی الله عليه وسلم) کلام (د خبرو الفاظ) داسې جلا جلا وو، چې هر اورېدونکی به پرې پوهيده. (درسوال،۱۳۸۹ ل: ۲۴۲)

**د عالم ارزښت او مسئوليت**

په اکاډميکو مرکزونو کې عالمانو او پوهانو ته پکار ده، چې د محصل په علمي او فکري سپېڅلتيا او روزنه کې مؤثر نقش ولوبوي. د علمي بحثونو او نظريو په برکت سره د محصل فکر او علمي ليدلوری لا وړانګن کړي. علامه افغاني علم له ډيوې او عالم له پانوس (شيشې) سره ورته ګڼلی او ليکي: ((ښاغلو! زه هغه وګړو ته هک پک يم، چې شپه تر سهاره ډيوې ته (شمس بازغه) لولي او هېڅکله يې پر دې خبره غور نه دی کړی چې له ډيوې څخه ښيښه وکاږي، نو له ډيوې څله لوګی پورته کېږي او په ډيوه کې د ښيښې اېښودلو څخه څنګه لوګی ورکېږي)) (رازقي، ۱۳۸۸: ۱۰۱)

عالم چې د ټولنې د خير او فلاح لپاره کار وکړي، په علم عمل وکړي، نورو ته يې ور وښيي الله (ج) ته خورا محبوب وي، همدا علت دی چې په قران عظيم الشان کې يې ستر صفتونه شوي دي. د المجادلې سورت د (۱۱) ايت شريف کې فرمايي: ((يَرفَعِ اللهُ الّذين ءآمَنُو مِنکُم وَالّذِينَ أُوتُو العِلمَ دَرَجْت)) ژباړه: الله (ج) له تاسو څخه د خپلو هغو بندګانو درجې چې ايمان يې راوړی او د هغه کسانو چې پوهه ورته ورکړل شوې ده پورته کوي. يعنې د مومنانو او عالمانو درجې يې پورته کړي دي)) (درسوال،۱۳۸۹: ۲۶۰)

د ترمذی شریف دویم ټوک کې یې په اړه راغلي: ((فَضلُ العْالِم عَلَى العَابِد كَفَضلِي عَلى اَدنَاكُم)) ژباړه: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د عالم فضلیت په عابد باندې داسې دی لکه زما فضلیت ستاسو په یو ادنی شخص باندې. (درسوال،۱۳۸۹: ۲۶۰)

د علمي استغنا لپاره لازمه ده، چې عالم هیڅ وخت له علمي حقایقو څخه سترګې پټې نه کړي. مترلینګ وایي: ((که زه د حقیقت په اظهار کې زیان ووینم پروا نشته، خو چې حقیقت زما د چوپوالي په وجه زیانمن نشي)) (الفت،۱۳۸۷: ۴۷۴)

**ادب او فرهنګ**

ادب له لویه سره د ژوند مهذبه ژباړه ده، چې په اغېزناکو کلمو او الفاظو تر سره کېږي. ادب او فرهنګ د ټولنې په جوړښت، پاېښت، نوښت او پرمختګ کې رغنده رول او درووند رسالت لري، چې انسان او انساني ژوند ته ښکلا ورکوي. ولټیر لیکي: ((تر څو چې د ادب قلم زما په لاس کې دی، هیڅکله به ونه وایم، چې ولې مې شاهي تاج په سر باندې نشته)) (الفت،۱۳۸۷: ۵۱۰).

د هرې ټولنې ادبیات له خپلو ټولنیزو ارزښتونو څخه راټوکېدلي وي، ددې لپاره چې ادب او فرهنګ د ټولنې لپاره موثر واقع شي، پکار ده چې ادبي او فرهنګي ناستې مو له اسلامي، ټولنیزو او کلتوري ارزښتونوسره ملې وي. په ټوله کې ادبي او فرهنګي ناستې د یوې ټولنې تاریخ، کلتور او ژبه ساتي او ټولنه متمدنوي. د فرهنګونو وده، پرمختګ او ساتل د علومو په ترقۍ کې نغښتې، کله چې کوم هېواد کلتوري او فرهنګي یرغل ته زړه ښه کوي، علت یې دادی چې هلته د پوهې ګراف راټیټ وي. افغانان داسې اصیل فرهنګ او تمدن لري، چې نورې نړۍ ته یې د متمدنوالي الهام ورکړ. همدا فرهنګي او ادبي ناستې دي، چې له نورو ښېګڼو سربېره د فرهنګ، ویاړلواسلافو د یاد او لرغوني تاریخ د ساتنې او ودې بهترین مرکزونه دي، حبیب الله رفیع لیکي: ((د افغانستان ملي کلتور د پنځو زرو کلونو په اوږدو کې تشکل کړی، رنګ یې اخستی او د افغان ملت د ټولو جوړونکو قومونو معنوي میراثونه په کې را غونډ شوي دي)) (رفیع ،۱۳۹۶: ۱۵۱)

فرهنګ د یوې ټولنې هغه هینداره ده، چې ټول کړه وړه یې ترې معلومېږي. همدا فرهنګي ناستې او غونډې دي، چې په وسیله یې خپل فرهنګ نورو ته منعکس کېدلای شي. لازمه ده چې فرهنګي برخې ته کار وشي، همدا ارزښتناکه برخه ده، چې د یوې ټولنې کړه وړه ترې لا ښه معلومېږي. استاد سید اصغر هاشمي یې په اړه لیکي: ((د ملتونو په فرهنګي موضوع کې د یادونې وړ خبره د خلکو اخلاقي معیار معلومول دي)) (هاشمي، ۱۳۹۸: ۲۸۰)

د استاد خبره دقيقه ده فرهنگي ناستې زموږ د ټولنې اخلاقي معيارونه لا پسې لوړوي. په ټوله کې ادب او فرهنگ ته وده ورکول، فکري پوخوالی او د ولسونو اصيل فرهنگ پياوړي کول، د همدې ډول ناستو محصول دی، چې د روڼ اندو پوهانو او څېرکو محصلانو له خوا په پوهنتونونو کې جوړېږي او په پايله کې د علم په وړاندې د ټولنې د عام ذهنيت گراف لا لوړېږي.

**د پوښتنپاڼې پر اساس د څېړنې موندنې**

پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنگي غونډو جوړېدل په اکاډميکو مرکزونو پورې تړلې موضوع ده. همدې ته په پام مې غوره وگڼله، چې په اړه يې د کادري غړو او مسلکي کسانو نظر له ځانه سره ولرم، چې په خپله څېړنه کې لا غوره او موثرې پايلې ته ورسېږم. د يوولسوپوښتنو پوښتنپاڼه د(خورا زيات، زيات، لږ او بيخي لږ) معيار په درجه بندۍ سره (٦٢) تنو مسلکي او کادري غړو په پوره ډاډ او اطمينان سره راته راځواب کړې، چې (SPSS) پروگرام په واسطه يې تحليل، تر لاسه شوې پايله او مؤثر نظرونه په لاندې ډول دي:

## د ډیټا پوښتنې

۱ ـ په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو جوړول د اکاډمیکي ارتقا لپاره څومره مؤثر دي؟
۲ ـ په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو جوړول د محصل له فکري نبوغ سره څومره مرسته کوي؟
۳ ـ په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو جوړول د ځانګړي میکانیزم په اساس څومره مؤثریت لري؟
۴ ـ په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو جوړول د کادري غړو او محصلانو په جرأت، منطق او استدلال کې څومره پوخوالی راولي.
۵ ـ د اسلامي، ملي، ټولنیزو او اکاډمیکو ارزښتونو تر سیوري لاندې دا ډول غونډې جوړول د عامه ذهنیت جوړولو لپاره څومره مؤثریت لري؟
۶ ـ څومره موافق یاست، چې په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو جوړول کادري غړو او محصلانو ته پراخې مطالعې ورکولو توان ورکوي؟
۷ ـ څومره موافق یاست، چې یادې غونډې جوړول استاد او محصل له چیپټري زده کړو څخه با هدفه، تطبیقي او په پایلو ولاړو زده کړو ته رابولي؟
۸ ـ څومره موافق یاست، چې د ټولنې په رغښت، فکري ودې، علمي استغنا او پرمختګ کې د علم، ادب او فرهنګ دري بعدي مثلث مبرمه ونډه لري؟
۹ ـ څومره موافق یاست، چې ددې غونډو د جوړولو لپاره د لوړو زده کړو وزارت له لوري متداومه کړنلاره جوړول مهم دي؟
۱۰ ـ تجربو ثابته کړې، چې په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو جوړول مؤثر او مُثمر تمامیدای شي څومره موافق یاست؟
۱۱ ـ څومره موافق یاست چې د علمي بحثونو، مناظرو او کره کتنو له اړخه علوم، فنون او کلتورونه د نوښت او رغښت په په لوړ ګام اخلي.




لومړی انځور: د فیصدۍ په اساس تحلیل شوي ډیټا




دويم انځور: د ګراف په واسطه تحليل شوې ډيټا

**د تحليل شوي پوښتنپاڼي پايله**

د پوښتنپاڼي له ځوابولو څخه معلومه شوه، چې په لوړې فيصدۍ سره په پوهنتو نونو کې علمي، ادبي او فرهنګي غونډې جوړول مؤثرګڼل شوي دي. دا يې د تحصيلي نظام او اکاډميکې ارتقاء لپاره غوره او پر ځای اقدام ګڼلی. روښانه شوې چې دا ډول غونډې د فکري نبوغ، خلاق ذهن، علمي منطق، جرأت او د تدريس پروسې له کيفيت سره بشپړه همکاري کولای شي.

د پوښتنپاڼي له ځوابولو وروسته د ګډونوالو ځينې نظرونه چې د دا ډول غونډو د جوړېدو لپاره لا موثر ګڼل شوي په لاندې ډول دي:

**د ګډوونوالو اغيزناک نظرونه**

ددې ډول ناستو لپاره بايد په پوهنتونو نو کې د استادانو او محصلانو د مشاورې ځانګړی دفتر موجود وي، چې دا ډول ناستې د وخت اړتياوو، د محصلانو اولېتونو او علاقې ته په پام ترتيب کړي. له دې سربېره دې ډول غونډو ته بايد د لوړو زه کړو وزرات له لوري ځانګړی طرزالعمل جوړ شي، چې قانوني صبغه پيدا کړي او د تضمين کيفيت په پروسه کې ځانګړی معيار او نومره ورکړل شي.

## د څېړنې موندنې

د موضوع تحلیل، سپړنې او تحلیل شوې ډېټا ته ارقام ن په پام ویلای شو، چې په پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو مؤثریت شتون، دې ډول ناستو ته ځانګړی میکانیزم او قانوني طرزالعمل جوړول اود تضمین کیفیت پروسه ورسره لا پیاوړي کېدل ددې څېړنې مهمې موندنې دي. په پوهنتونونو او نورو اکاډمیکو مرکزونو کې ممکن ادبي ناستې تر سره شوې وي او یوازې په شفاهي ډول د یوه نظر په بڼه غوره ښودل شوې وي ؛ ولې دلته روښانه شوه چې په پوهنتونونو کې دا ډول غونډې جوړول هم مؤثریت لري هم ګټوریت.

**مناقشه**

متمدنه او بسیا ټولنه په لوړو علمي، ادبي او فرهنګي افکارو ښکلي وي. هغه چې وایي عالمان د ټولنې ستوري او لیکوال یې سترګي دي پر ځای خبره ده. علوم او فنون باید د انسان او ټولنیز ژوند د ښېګنې او ښکلا لپاره لوړو ارزښتونو ته په پام زده کړل شي، نورو ته وروښودل شي. همدا د افکارو او نظریاتو ډګر دی، چې علوم ورسره ورځ په ورځ د ارتقاء په لور ګامونه اخلي. د عالي او علمي افکارو د اورېدلو، وړاندې کولو، نقد کولو او تحلیل حوصله ولرو ؛ نو یوه شئ، چې اکاډمیک او تحصیلي بهیر مو د مؤثریت او ګټوریت تومنه پیدا کولای شي.

**پایلې**

د یوه ځانګړي میکانیزم په لرلو سره پوهنتونونو کې د علمي، ادبي او فرهنګي غونډو جوړول څو اړخیزې ګټې لري. د علومو او فنونو نني پرمختللي مزل سره مو روانوي، د پراخه مطالعې کولو، زیاتو معلوماتو لرلو، قوي علمي منطق پیداکولو، علمي او عالي افکارو د اورېدلو او وړاندې کولو، جرأت، فصاحت او بلاغت پیداکولو توان راکوي. له دې سره اکاډمیک مرکزونه د کیفیت له اړخه پرمختګ کوي، زده کړې ورسره متداومې، ګټورې او تطبیقي کېږي، بالاخره د لوړو زده کړو له اړخه یوه بسیا او متمدنه ټولنه رامنځته کېږي.

**سرچينې**

الفت، گل پاچاه. (۱۳۸۷). د الفت نثري کليات، د محمد اسماعيل يون سريزه او راټولونه، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

حکيمي، رحمت الله. (۱۴۰۰). د زړه خبرې، کابل: مستقبل خپرندويه ټولنه.

درسوال، مولوي محمود. (۱۳۸۹ ل). اسلامي اخلاق: د پوهنې مطبعه.

رازقی، شاهد حسن. (۱۳۸۸). د سيدجماالدين افغان اند او ژوند، د عبدالمالك همت ژباړه، کابل: مستقبل خپرندويه ټولنه.

رفيع، حبيب الله. (۱۳۹۱). د زمانې پلونه، پېښور: ميهن خپرندويه ټولنه.

رفيع، حبيب الله. (۱۳۹۶ل). ملي کرښه، کابل: امان خپرندويه ټولنه.

غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۸). څراغ، دويم چاپ، جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه.

غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۳). کلتور او ټولنه، جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه.

کابل مجله. (۱۳۵٦). علمي، ادبي، اجتماعي، فلسفي او هنري مياشتنۍ مجله، لومړۍ گڼه، (د افغاني سيدجمال الدين د اتياتيم تلين افتتاح غونډه کې د محمد صديق روهي وينا)، پښتو ټولنه، کابل: افغانستان.

ناگار، فضل ولي. (۱۳۹۷). معاني، پېښور: ميهن خپرندويه ټولنه.

هاشمي، سيد اصغر. (۱۳۹۸). ژبنۍ او ادبي څېړنې (د کابل پوهنتون د Ph. D سکالروانو مقالې)، ننگرهار: هاشمي خپرندويه ټولنه.